انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۳/۰۷

# د وطن لور ته !

د وطن لورې ! له پیریو په تا څه تیریږي     تیارې شوې تیرې په نړۍ خو په تا نه تیریږي
دا کوم شیطان په زنځیرونو درته پښې تړلې؟     چې آزادۍ ستا له زندان، په هوا نه تیریږي

** * **

ستا په وطن کې رابعه د مینې اورکې وسوه
ستره نازو او زرغونه هم په دې کورکې وسوه
نه په ښارو نه په باندو کې چا خوښي درکړې
هره خوښي هره خندا دې د پلار زورکې وسوه

** * **

ستا په راتلو باندې لا هم کورته ژړا راځي     ستا د وجود سره لوی غم ستا په با با راځي
ورور دې نارامه دې چې کورته ولې خور راغله؟     له پیدایښت سره دې مور ته هم ژړا راځي

** * **

په سپینه ږیره دې ملا په شکرانه کې غواړي
پیر دې هوس د پاره پلار نه نذرانه کې غواړي
که دا ونه شي بیا تهمت دربانـدې لګې لورې
سنـګسـارول دې محکمې جاهلانه کې غواړي

** * **

که وهل کیږې، که خرڅیږې خوله به پټه ساتې     د وطن لورې نه به ژاړې نه به شور جوړ وې
که ته وره یې که نا خوښه که رنځوره یې هم     اویا کلن سره به هم د مني کور جوړ وې

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د وطن لوری تر قیامته به دی حال وی همدا      که زولنې د اسارت د دستور ماتی نکړی

لکه لانځکه به دی لاس کی ګډوی نارینه      که دروازی د زندانونو ضرور ماتی نکړی

** * **

یا به ناهید او فرخنده، یا ملالۍ جوړیږی      یابه سلګي، یا به ژړا، یا به ږلۍ جوړیږی

یا به د خاورو سره خاوری یی زبونه به یی      یا به د ظلم و استبداد سرته ګولۍ جوړیږی

** * **

لورانو پاڅۍ د انسان په نامه ځان جوړ کړئ      ځانته د عدل په بنیاد آزاد جهان جوړ کړئ

تاهم د ورور په ځیرد خپلی مو شیدی خوړلی      له دی دوزخ نه یو جنت افغانستان جوړ کړئ

** * **

فبروری/۲۵/۲۰۱۸

تورنتو ــ کانادا